مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۰۲

# پردی ډول



چې پـــردي ډول تــــه پـه ګــډا شولـو مـوږ
خـوار او ذلـیـل پـــه دې دنـیـا شـولـو مـوږ

د پـلار نـیـکـونـو لاره پـــرېښوده مـــوږ
د بـل پـه پـل بـانـدې پـښـه کـېـښوده مـوږ

د بل پـه دروغ ویـنــا خـطـا شـولــو مـوږ
چې پــردي ډول تـــه پـــه ګـــډا شولـو موږ

خـپـله ځـان وژنـو رانه ځــان ورک شوی
فــرق د کـــافـــــر او مــسـلـمـــان ورک شـو

په ټــول عالـم کښې اوس رسوا شولو موږ
چې پــردي ډول تـه پـه ګـډا شـولـــو موږ

هـــوس د حـــورو مـــو ارمـــان وخـــوړو
بې ځـایـه حـرص رانـــه ایـمـان وخـــوړو

لـېـرې د خـدای او پـاک مـولا شولـو موږ
چــې پــردي ډول تـه پـه ګـډا شولـو موږ

د پــښـــتـنـو شــان او شـوکـــت ولاړلـــو
هــغــه عـــزت او شـجــاعـــت ولاړلـــو

اوس خـو ټـول بل ته ور په شا شولو موږ
چې پـردي ډول تـــه پـــه ګډا شـولـــو مـوږ

په پردي جنګ کښې مو ځانونه مړه کړل
خپل مو قومونه خپل مو ورونه مـړه کړل

ټـــولې نـــړۍ تـــه د خـــندا شـولـــو مـــوږ
چـــې پـــردي ډول تـــه په ګډا شولو مـــوږ

02/11/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ